# خوږ اختر
# او
# خوږې خبرې

پښتو





پيشکش:
مجلس المدينة العلميه (دعوت اسلامی)
ترجمو:
ټرانسليشن ډيپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# خوږ اختر او خوږې خبرې

دُعائے عطّار یا **الله پاکه!** څوك چې دا رِساله ”**خوږ اختر او خوږې خبرې**“ اُولوَلي یا ئې وَاورِي هغه ته د دِيدارِ مُصطَفىٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حقيقي اختر نصيب کړې، د مرګ په وخت کښې ئې ايمان سلامت لرې او بے حسابه بخښنه ئې اوکړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرود شريف فضيلت

فرمانِ مُصطَفىٰ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د حضرتِ جابِر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ والِدِ محترم حضرتِ سَمُرَه سُوائي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت کوي چې مونږه د نبي پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضر وو چې يو کس حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يارَسُولَ الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د **الله** پاک په بارګاه کښې د ټولو نه ښه عمل کوم يو دے؟ نو د **الله** پاک خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: رښتيا وئيل او امانت ادا کول- ما عرض اوکړو: يارَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! څه نور اِرشاد اُوفرمائے! نو اوئې فرمائيل: د ذِکر کثرت او په ما باندې دُرُود شريف لوستل چې دا عمل فَقر (يعني غريبي) لرې کوي- (اَلْقَوْلُ الْبَدِيع ص ۲۷۳، مختصرا)

بہرِ رَفعِ مَرَض و زَحمت و رَنج و کُلفت | ڈھونڈتے پھرتے ہیں وہ لوگ کہاں کا تعویذ
تم پڑھو صاحِبِ لولاک پہ کثرت سے دُرُود | ہے عجب دردِ نِہاں اور اماں کا تعویذ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د اختر خوشحالئ ئې يو په دوه شوې

د سلسلۀ قادريه رَضَوِيَّه عَطّارِيّه يو عظيم بزرګ حضرتِ سِري سَقطي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه (د عاجزئ په طور) فرمائي چې زه د زړه د سختئ په مرض کښې اخته ووم خو د حضرتِ معرُوف کَرخِي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د دُعا په بَرَکت ما ته نجات حاصل شو- هغه داسې چې زه يوه ورځ د اختر د لـمانځه نه پس بيرته راروان ووم نو حضرتِ معروف کرخي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه مې اوليدلو- هغوئي سره يو ماشوم هُم وو چې د هغه ويښته شيندلي وِيندلي وو او هغه په مات زړه ژړل- ما عرض اوکړو: يا سيِّدِي! څه اوشو؟ تاسو سره دا ماشوم ولې ژاړي؟ هغوئي اووئيل: چې ما يو څو ماشومان په لوبو اوليدل او دا ماشوم په غمګين حالت کښې يو طرف ته ولاړ وو او هغه ماشومانو سره ئې لوبې نه کولې- زما په تپوس ده اُووئيل چې زه يتيم يم، زما پلار وفات شوے دے، د هغوئي نه پس زما هيڅ اسره نشته او ما سره پيسے هُم نشته چې زه پرې ځان له غوزان واخلم او د دې ماشومانو سره لوبې اوکړم- نو ما دا ماشوم ځان سره راوستو چې د ده د پاره څه [د ميوو] هډوکي راټول کړم چې دے پرې ځان له غوزان واخلي او نورو ماشومانو سره پرې لوبې اوکړي- ما عرض اوکړو: تاسو دا ماشوم ما له راکړئ چې زه د ده دا خراب حالت بدل کړم- هغوئي اُوفرمائيل: آيا ته به واقعي داسې اوکړې؟ ما اُووئيل: آو جي- هغوئي اُوفرمائيل: صحيح ده، دے بوځه، **الله** پاک دِ ستا زړه د ايمان په بَرَکت غني کړي او د خپلې لارې ظاهري او باطني پيژندګلو دِ درعطا کړي- حضرتِ سِري سَقطي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي چې ما هغه ماشوم ځان سره کړو او بازار ته لاړم، هغه ته مې ښے جامے ور واغوستلې او غوزان مې ورله واخِستل، هغه په هغې ټوله ورځ ماشومانو سره لوبې کولې- ماشومانو ترينه تپوس اوکړو چې په تا دا احسان چا اوکړو؟ نو هغه جواب ورکړو چې: حضرتِ سِري سَقطي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه او معروف کرخي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه- چې کله ماشومانو ښے لوبې اوکړې او لاړل نو هغه په خوشحالئ

خوشحالۍ زما خوا ته راغلو- ما ترينه تپوس اوکړو: وايه! ستا د اختر ورځ څنګه تيره شوه؟ هغه اُووئيل: کاکا جانه! تا ما ته ښے جامے راواغوستلې، زه دِ خوشحاله کړم او ماشومانو سره لوبو کولو د پاره دِ اوليږلم، زما غمژن او مات زړه دِ روغ کړو، **اللّٰه** کريم دِ د خپلې بارګاه نه تاسو ته د دې بدله درکړي او ستاسو د پاره دِ د خپلې بارګاه لاره آزاده کړي- حضرتِ سِري سَقطي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: زه د ماشوم په دې خبرو ډير زيات خوشحاله شوم او زما د اختر خوشحالۍ نورې زياتې شوې- (الروض الفائق، ص۱۸۵) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.** اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د يو يتيم ماشوم سره د همدردۍ او خير ښيګړې ايمان تازه کوونکے حکايت تاسو اولوستو- د واړه اختر خوشحالۍ دي، ډير ډير نعمتونه دي، په کورونو کښې د خوراک د پاره د ښه نه ښه ډِشونه تياريږي، بهترين ښکلے لِباس مو اغوستے دے، په کورونو کښې د ميلمنو د راتلو او د اختر د روپو ورکولو او اخستلو سلسله جاري ده، ځومره به ښه وي چې د ګاونډيانو، غريبانو، يتيمانو او سفيد پوشه عاشقانِ رَسُول کورونو ته هُم د خوشحالۍ او راحت رَسَولو څه صورت جوړ کړے شي چې دا "اختر" زمونږ د پاره د سعادت مندئ سبب جوړ شي- کاش چې داسې اوشي-

## يتيم څه ته وائي؟

نابالغه ماشوم يا ماشومه چې پلار ئې وفات شوے وي هغه "يتيم" دے- (دُرِّمُختار ج۱۰، ص۴۱۶) ماشوم يا ماشومه تر هغې پورې يتيمان وي تر څو چې بالغ شوي نه وي، د بالغ کيدو نه فوراً پس د هغوئي نه د يتيم احکام ختم شي، څنګه چې مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ماشوم چې بالغ شي نو بيا يتيم نه دے- د انسان هغه بچے يتيم دے د چا چې پلار وفات شوے وي

او د ځناور هغه بچے يتيم دے چې مور ئې مړه شي، ملغلره هغه يتيمه ده كومه چې په صدف [سِيپ] كښې يواځې وي، هغې ته ''دُرِّ يتيم'' وائي، هغه ډيره قيمتي وي- (نُورُالعِرفان پ۴، النسآء، تحت الآية۲)

## د يتيم په سر باندې د لاس راښكلو فضيلت

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! يتيمانو سره د ښه سُلوک كولو ډير اجر و ثواب دے- د اللّٰه پاک د خوږ او آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: چا چې صرف د اللّٰه پاک د رضا د پاره د يتيم په سر لاس راښكلو نو چې په ځومره ويښتو د هغه لاس تير شو د هر ويښته په بدله كښې به هغه ته نيكئ ملاويږي- (مُسْنَدِاِمام اَحمَد، ج۸، ص۲۷۲، حديث۲۲۲۱۵)

د يتيم په سر باندې د لاس راښكلو او مِسكِين باندې د طعام خوړلو يو بَرَكت دا هُم دے چې دې سره د زړه سختي لرې كيږي- چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې يو كس د خپل زړه د سختئ شكايت اوكړو نو نبيِ رحمت، شفيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: د يتيم په سر باندې لاس راښكاږه او مسكينانو باندې طعام خوره- (مُسْنَدِاِمام اَحمَد، ج۳، ص۳۵۵، حديث۹۰۲۸)

نبيِّ كريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: كه ماشوم مسكِين وي نو د هغه په سر باندې دِ لاس په راښكلو مخې طرف ته راولي او كه د ماشوم پلار (ژوندے) وي نو لاس دِ په راښكلو د شا طرف ته بوځي- (مُعْجَم اَوْسَط ج۱ ص۳۵۱ حديث۱۲۷۹)

وضاحَت: كه ماشوم يتيم وي نو سر د پاس نه لاس راښكل شروع كړه او تندي پورې ئې راوله او كه پلار ئې ژوندے وي نو د تندي نه ئې شا طرف ته راښكاږه- (النهاية فى غريب الحديث و الاثر، ۴/۲۸۰)

ضعیفوں بیکسوں آفت نصیبوں کو مبارک ہو
یتیموں کو غلاموں کو غریبوں کو مبارک ہو

# د يتيمې ماشومې ايمان تازه کوونکې نصيحتونه

حضرتِ حماد بن سلمه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهَا فرمائي چې يو ځل د جمې په موسم کښې تيز باران اوشو، د مسلسل باران کيدلو په وجه خلق پريشانه شو- زمونږ په ګاونډ کښې به يو عبادت ګُزاره ښځه د خپلو يتيمانو بچو سره په يو زوړ کور کښې اوسيدله- د باران په وجه د هغوئي د کوټې د چت نه په کوټه کښې دننه اوبه راڅڅيدل شروع شوې، هغې نيکې ښځې چې اوليدل چې ماشومان د يخنئ نه ريږي او د باران اوبه مسلسل کوټه کښې راتويږي او باران د اودريدلو نوم نه اخلي نو هغې د **الله** پاک به بارګاه کښې دُعا د پاره لاس پورته کړل او عرض ئې شروع کړو: ''اے زما رحِيم و کرِيم پروردګاره! ته رحم او نرمي کوونکے ئې، زمونږ په بد حال باندې رحم او نرمي اُوفرمائے'' هغه نيکه ښځه لا د دُعا نه نه وه فارغه شوې چې فوراً باران اودريدو- زما کور د هغه نيکې ښځې د کور سره بالکل لګيدلے وو او ما د هغې دُعاګانې اوريدلې- چې کله ما دا اوليدل چې د هغې د دُعا سره باران بالکل اوريدو نو ما په يوه خلته کښې د سرو زرو لس اشرفئ واچولې او ورغلم د هغه ښځې دروازه مې اوډبوله- چې د دروازے د ډبولو آواز ئې واوريدو نو هغې اُووئيل: **الله** دِ اوکړي چې دا کس حَمَّاد بِن سلمه وي، چې ما دا واوريدل نو ما اُووئيل: آو زه حَمَّاد بن سلمه يم او ما ستا آواز واوريدلو چې تا په دُعا کښې داسې وئيل چې: اے نرمي کوونکيه پروردګاره! نرمي اوکړې- نو اوواېه چې آيا **الله** پاک تاسو سره د نرمئ والا مُعامله اوکړه؟ هغه نيکې ښځې اُووئيل: زما پروردګار په مونږ داسې نرمي اوکړه چې باران ئې اودرولو، ماشومان (ئې د يخنئ نه بچ کړل او) تاوده ئې کړل او په کور کښې جمع شوي اوبه ئې وچې کړې- نو ما د سرو زرو د اشرفو خلته راويستله او ورته مې اُووئيل چې دا څه رقم دے، دا په خپلو ضرورتونو کښې اِستعمال کړه- زمونږ په مينځ کښې لا دا خبرې جارې وې چې [د هغې] يوه ماشومه راغله، هغې د وړئ زړه شان کُرته اغوستې وه چې هغه د يو ځائے نه شليدلې هُم وه او پيوندونه پرې لګيدلي وو،

زمونږ خوا ته راغله او اُوئې وئيل: اے حَمّاد بِن سلمه! آيا تاسو د دې دُنياوي دولت راکولو په ذريعه زمونږه او زمونږ د خوږ **الله** په مينځ کښې پرده (يعني رُکاوټ) جوړول غواړئ، مونږ ته داسې دولت نه دے پکار چې هغه زمونږ د خوږ **ربّ** د بارګاه نه زمونږ د جُدائي سبب جوړ شي- بيا هغې خپلې مور ته اووئيل، مورې: چې کله مونږه **الله** پاک ته د خپلو مصيبتونو په باره کښې التجا اوکړه نو هغه فوراً زمونږ طرف ته د دُنيا دولت را اُوليږلو، چرې داسې اُونشي چې مونږه د دې دولت په وجه د خپل مالِکِ حقيقي د ذِکر نه غافِله شو او زمونږه تَوجُّه د هغه نه لرې شي او د بل چا طرف ته شي، بيا هغې ماشومې خپل مخ په زمکه مږل شروع کړو او اُوئې وئيل: اے زمونږه پاکه پروردګاره! ستا د عِزَّت و جلال په قسم! مونږ به کله هُم ستا د در نه لاړ نه شو، زمونږ اُمِّيدونه به صرف ستا نه وابسته وي، مونږ به هُم ستا په در پراته اوسو، اګر که مونږه اوږلے شو خو مونږ به بيا هُم ستا در نه پرېږدو- بيا هغه ماشومې ما ته اُووئيل: **الله** پاک دِ تاسو په خپل حِفظ و امان کښې اوساتي، برائے کرم! تاسو دا رقم بيرته يوسئ او د کوم ځائے نه مو چې راوړے هُم هلته ئې کيږدئ، مونږ ته د دې دولت هيڅ ضرورت نشته، مونږ ته زمونږه ساتونکے **ربّ** کافي دے، هغه به مونږه کله هُم نه مايُوسه کوي- مونږه خپل ټول ضرورتونه د هغه پاک پروردګار په بارګاه کښې پيش کوو، هُم هغه زمونږه ضرورتونه پوره کوونکے دے، هُم هغه د ټولو جهانونون ساتونکے او د ټول مخلوق حاکِم او والي دے- (عيون الحکايات ص١٨١، مُلَخَّصاً و بتغير)

**د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

تمہارے در تمہارے آستاں سے میں کہاں جاؤں
نہ مجھ سا کوئی بے کس ہے نہ تم سا کوئی والی ہے

(ذوق نعت، ص ٢٣٣)

# جَنَّت ته بوتلونکے کار

جَنَّتي اِبنِ جَنَّتي، صحابي اِبنِ صحابي، حضرتِ عبدُاللّٰه بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا فرمائي چې حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: څوک چې يو يتيم په خپل خوراک څښاک کښې شامِل کړي، نو اللّٰه پاک د هغه د پاره يقيني طور جَنَّت لازم کوي مګر دا چې څه داسې ګناه اوکړي چې هغه د بخښنې قابله نه وي- (مشکاةُ المصابيح، ج۲، ص۲۱۴، حديث ۴۹۷۵)

په يو بل حديثِ پاک کښې دي چې د اللّٰه پاک آخري نبي، مکِّـی مَدَنـی، مُحَمَّدِ عَرَبِی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: څوک چې ځان سره د اوسيدونکي يتيم هلک يا يتيمې جينئ سره ښيګړه اوکړي نو زه او هغه به په جَنَّت کښې د دې په شان يُو او خپلې دوه ګوتې ئې يو ځائے کړې- (مُسنَدِاِمام اَحمَد، ج۸ ص۳۰، حديث ۲۲۳۴۷)

يعني څنګه چې په دې دوو ګوتو کښې هيڅ فاصله نشته هُم دغسې به په جَنَّت کښې په ما او په ده کښې هيڅ فاصله او لرې والے نه وي- (مِرأةُ المناجيح، ج۶ ص۵۴۸)

# پينځه ماشومان او د ريل ګاډي سفر

په ريل ګاډي کښې يو غمژن کس د خپلې خور او د هغې پينځه بچو سره سفر کولو- هغه ﺑﭽﭙﻠﻪ خو د ريل ګاډي د کړکئ سره ناست په څه جَوَر سوچ کښې ورک وو او په وقفه وقفه به ئې چې د خپلې خور ورېږ سلګئ واوريدلې نو هغې ته به ئې تَسَلِّي ورکوله، او ماشومان په پوره ډبه کښې مستئ او وراني کولو کښې مصروفه وو- چا اخوا منډې وهلې چا ديخوا منډې وهلې، څوک به برتهٔ ته اوختلو، چا به ټوپونه وهل، غرض دا چې د ريل ګاډي ډبه د لوبو ميدان ښکاريدلو، نور مسافر د هغه ماشومانو د وراني نه ډير پريشانه وو، په دې کښې يو کس ته غُصّه ورغله او د هغه غمژن کس خوا ته ورغلو او ورته ئې اُووئيل: جناب! خپل بچي منع کړه، دا ريل ګاډے دے که د ماشومانو د لوبو ګراؤنډ دے؟ څوک يو خوا منډې

وهي او ځوک بل خوا- **الله** دِ نه کړي! که د روان ګاډي نه اوغورزيږي نو بيا؟ تاسو خو په سوچونو کښې ورک ئې لکه هډو خبر چې نه ئې چې دا څه کيږي؟ هغه غمژن کس په ډير غم کښې د خفګان په انداز کښې اووئيل: وروره! دا زما بچي نه دي بلکه زما د خوږ بچي دي، نن سحر د دې ماشومانو پلار په حق رسيدلے دے، مونږ جنازے له روان يُو او دا ماشومان لا نه دي خبر چې د دوئي پلار هميشه د پاره دُنيا نه تلے دے- تاسو پخپله اُووائے! زه څنګه دې ورِو ورِو ماشومانو ته دا دردناک خبر واوروم، په ما کښې خو د دې ماشومانو د منع کولو هِمَّت نشته- دا ئې چې واوريدل نو د هغه سړي او د ټولو مسافرانو غُصَّه ماشومانو سره همدردئ او مَحبَّت کښې بدله شوه، او بيا ټولو مسافرو په ډيره همدردئ او مهربانئ هغه ماشومانو ته کتل-

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! دا اګر که فرضي واقعه وي خو مونږ ته د دې واقعے نه ډير سبق حاصليږي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږ په معاشره کښې داسې خلق هُم شته چې هغوئي د غريبانو ، يتيمانو، غمژنو، بے اسره او سفيد پوشو خلقو سره همدردي کوي او د هغوئي په غم ښادئ کښې د هغوئي په کار راځي او دا يوه ډيره لويه نيکي ده، د يو مسلمان زړه خوشحالول هسې هُم د ثواب کار دے او که هغه يو غريب يا يتيم وي نو د ښو ښو نيتونو سره ئې ثواب نور هُم زياتيدے شي- افسوس! نن حالات ډير بدل شوي دي، اوس د غريبانو او يتيمانو سره د همدردئ او ښيګړې جذبه ورځ په ورځ کميږي، د کور خوا و شا موجودو ضرورتمندو او سفيد پوشو خلقو سره ډير کم خلق تعاون کوي، که د اختر موقع وي او که په کور کښې د خوشحالئ څه پروګرام وي، که د لور، ځوئ واده وي يا د خپلوانو د پاره د روژه ماتي پروګرام وي غريبانو ته د چا تَوجُّه نه وي، که څوک ئې تَوجُّه را اوګرځوي نو پاتې شوے طعام چا غريب له ورکړي ګني د خوشحالئ په موقع دا غريبانان څوک نه يادوي- آيا تاسو ته معلومه

ده چې ښه کور او بد کور کوم وي؟ راځئ په دې باره کښې **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اولوَلئ۔

## د مسلمانانو بهترین کورونه

جَنَّتي صحابي حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: رسولِ پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: په مسلمانانو کښې بهترين کور هغه کور دے چې په هغې کښې يتيم وي هغه سره ښه سُلُوک کيږي او په مسلمانانو کښې بدترين کور هغه کور دے چې په هغې کښې يتيم وي هغه سره بد سُلُوک کيږي۔

(اِبنِ مَاجَه ج ۴ ص ۱۹۳ حديث: ۳۶۷۹)

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شرح کښې فرمائي: يتيم سره د (ښه) سُلُوک کولو ډير صورتونه دي: د هغه پالنه د هغه د خوراک ښائسته انتظام، د هغه تعليم و تربِيَّت، هغه دِيندار او لـمونځ گُزاره جوړول ټول په دې کښې داخل دي۔ غرض دا چې کوم سُلُوک خپل بچي سره کيږي هغه يتيم سره هُم اوکړے شي دا خبره ډيره جامِع ده۔

(مِرآۃ ج ۶ ص ۵۶۲)

حضور نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: په کوم دسترخوان چې يتيم وي شيطان د هغه دسترخوان خوا ته هُم نه ورځي۔ (مَجْمَعُ الزَّوائِد ج ۸، ص ۲۹۳، حديث ۱۳۵۱۲)

افسوس! ډير افسوس! اوس په دې معاشره کښې داسې بد نصيبه هُم شته چې هغوئي د يتيمانو سره د ښه سُلُوک په ځائے په هغوئي ظُلم او زياتے کوي، د هغوئي مال اوخوري، د هغوئي جائيدادونه قبضه کړي او دې مظلومانو ته قِسما قِسم تکليفونه ورکوي، ژړوي ئې او د دوئي ښيرے اخلي۔

# د خُلې نه به ئې اور راوُوځي

د حضرت سيدنا ابُوبَرزه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ نه روايت دے چې رَسُولِ کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: په ورځ د قيامت به **اللّٰه** پاک يو قوم د هغوئي د قبرونو نه په داسې حالت کښې راپاځوي چې د هغوئي د خُلو نه به لـمبې وهونکے اور راوځي. عرض اوکړے شو: يارَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! هغه به کوم خلق وي؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: آيا تاسو نه دي ليدلي، اللّٰه پاک ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِیۡنَ یَاۡکُلُوۡنَ اَمۡوَالَ الۡیَتٰمٰی ظُلۡمًا اِنَّمَا یَاۡکُلُوۡنَ فِیۡ بُطُوۡنِہِمۡ نَارًا ؕ وَ سَیَصۡلَوۡنَ سَعِیۡرًا ﴿۱۰﴾ (پارہ4 النسآء 10) (مسند ابی يعلی ج6، ص272، حديث 7403) | [مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِيمان: هغه [خلق] چې د يتيمانو مال ناحقه خوري هغوئي خو په خپلو خيټو کښې اور اچوي او نِزدې ده چې لـمبې وهونکي اور ته به داخل شي. |

اے ظالمَانو! اے د يتيمانو مال خوړونکو! د هغوئي په جائداد باندې ناجائزه قبضه کوونکو! د يتيم مال لـمبې وهونکے اور دے، دا خوړل داسې دي لکه اور خوړل. نن خو دا مال خوړل ډير خوند درکوي خو يوه ورځ به دا ستاسو د بربادئ سبب جوړ شي. نن ته د خپل طاقت په نشه کښې ئې خو چې کله د قيامت ورځ شي بيا به ستا هيڅ زور نه چليږي. د اللّٰه پاك په عطا سره د غيبو خبر ورکوونکي خوږ نبـي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې کله يتيم ته تکليف ورکولے کيږي نو د هغه د ژړا سره عرش رپيږي او اللّٰه پاك فرمائي: اے فرښتو! زما

بنده چا اُوژړولو، د چا پلار چې خاورو ته سپارلے شوے دے؟ (فردوسُ الاخبار ج2، ص507، حدیث 8557)

ظالمو! بعد مرنے کے پچھتاؤ گے　　　یاد رکھو! جہنم میں تم جاؤ گے

## تازه شين او خوږ مال

حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائی: بیشکه دا مال تازه شين او خوږ دے او د هغه مسلمان ښه ملګرے دے څوك چې د دې نه مسکين، يتيم او مسافِر ته ورکړه کوي او څوك چې ناحقه مال واخلي هغه د هغه (ځاروي ) په شان دے چې هغه خوراك ښه ډير کوي خو مړيږي نه، او هغه مال به د قيامت په ورځ د هغه خلاف ګواهي ورکوي. (بُخاری ج2، ص266، حدیث 2842)

## شهد او اِيره

يو ځل حضرت عيسٰی عَلَیْہِ السَّلَام چرته تشريف وړلو چې په لاره کښې ئې شيطان اوليدلو شيطان په يو لاس کښې ''شهد [يعني ګبين]''او په بل لاس کښې ''اِيره'' اخستې وه او روان وو، هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام ترينه تپوس اوکړو: اے د خدائے دښمنه! دا شهد او اِيره ستا په څه کار راځي؟ هغه اووئيل: شهد د غِيبَت کوونکو په شونډو لګووم چې هغوئي په ګناه کښې نور وړاندې لاړ شي او اِيره د يتيمانو په مخونو پورې مږم چې خلق ترينه نفرت کوي. (مکاشفةُ القلوب ص66)

## د اوښ د شونډو په شان شونډې

د مدينے د تاجدار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډک فرمان دے: ما د معراج په شپه يو داسې قوم اوليدلو چې د هغوئي شونډې د اوښانو د شونډو په شان وے او په هغوئي داسې

کسان مقرر وو چې د هغوئ شونډې به ئې نیولې بیا به ئې د هغوئ په خُلو کښې د اور کانړې اچول چې هغه به د هغوئ نه په شا وتل. ما تپوس اوکړو: اے جبرائیل (عَلَیْہِ السَّلام) دا کوم خلق دي؟ هغوئ اووئیل: دا هغه خلق دي چې د یتمیانو مال به ئې په ظُلم خوړلو. (تفسیرقرطبی،النسآء، تحت الآیة: 10، ج3، ص39، الجزء الخامس)

کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی | قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی

## د وارثانو په مال کښې د احتیاط بهترین مثال

د یو کس ځنکدن وو او یو بُزُرګ ئې خوا ته ناست وو. د شپې چې کله هغه وفات شو نو هغه بزرګ اوفرمائیل: دا ډیوه مړه کړئ ځکه چې اوس د دې په تیلو کښې د وارثانو حق شامِل شوے دے. (احیاء العلوم مترجم، ج2، ص368)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼرو! که په کور کښې یتیمان ماشومان وي نو د هغوئ د مال په مُعامَله کښې د ډیر زیات احتیاط نه کار اخستل پکار دي او د یتیم ماشوم په اجازت هم د هغه مال په خپل ذاتي استعمال کښې نه شئ راوستلے، په یو کور کښې اوسیدونکو وروڼرو کښې که یو ورور وفات شي نو په شریکه کورنئ کښې د یتیمانو ماشومانو د مال خیال ساتل ډیر مشکل شي، خو دا احتیاط کول ضروري دي او خُدانخواسته که په غلط انداز چا د یتیم مال استعمال کړو نو په قیامت کښې د دردناك عذاب سبب کیدے شي ځنګه چې تاسو بره بیان شوو روایتونو کښې اولوستل.

په قرآنِ کریم کښې یو مقام باندې **الله** پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لَا تَقْرَبُوْا مَالَ الْیَتِیْمِ اِلَّا بِالَّتِیْ هِیَ اَحْسَنُ حَتّٰی یَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۪ وَ اَوْفُوْا بِالْعَهْدِ ۚ اِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْـُٔوْلًا ﴿۳۴﴾<br>(پ15، بنی اسرائیل:34) | [مَفھُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او د يتيم مال ته نِزدې مه ورځئ خو په هغه لار کومه چې د ټولو نه ښه ده، تر دې چې هغه خپلې ځوانئ ته اورسي، او عهد پوره کړئ بيشکه د عهد نه به سوال کيږي. |

په دې آيت کښې د يوې کبيره ګناه نه منع کړے شوې دې او د يو اهم څيز حکم ورکړے شوے دے. کبيره ګناه خو د يتيم په مال کښې خيانت کول دي او اهم څيز وعده پورا کول دي. د يتيم ټول يا بعضې مال غصب [يعنې په زور ناجائزه قبضه] کول، په دې کښې خيانت کول، هغه ته په ورکولو کښې بے وجه لم ليټ کول دا ټول حرام دي، ځکه ئې اوفرمائيل چې د يتيم مال ته نزدې مه ځئ خو صرف په ښه طريقه او هغه دا ده چې د هغې حفاظت اوکړئ او زيات ئې کړئ. د دې نه معلومه شوه چې د يتيم وَلي (يعنې سرپرست) د يتيم په مال [د هغه د پاره] تجارت وغيره کولے شي، چې د هغه مال پرې زيات شي او دا په اَحسَن (يعنې ښه طريقه) کښې داخل دي، او دغسې د هغه مال د سود نه بغير په بينك کښې اينښودل جائز دي چې دا د حفاظت يو قِسم دے. **دويم** حکم ئې دا ارشاد اوفرمائيلو چې د يتيمانو مال هغوئي ته حواله کړئ کله چې هغه يتيم خپل پوخ عمر ته اورسي او هغه د اتلسو کالو عمر دے.

(تفسیر صراط الجنان، بنی اسرائیل، تحت الآیۃ:34، ج5، ص459)

## د يتيم د مال حفاظت کوونکے قاضي

ابو القاسِم عُبيد الله بِن سُليمان وائي چې زه د موسىٰ بِن بُغاء "کاتِب ووم"، هغه وخت مونږه (د اِيران دارالحکومت) "رے" کښې وو (چې اوس ئې نوم تِهران دے) او د هغه ځائے قاضي

حضرت احمد بِن هُذَیل کُوفی رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ وو. د موسٰی بِن بُغاء په هغه علاقه کښې څه زمکه وه چې په هغې کښې ئې څه تعمیراتي کار کول غوښتل. د هغه ځائے سره پیوسته د زمکې یوه ټکړا د یو یتیم ماشوم په مِلکیت کښې وه، ما ته موسٰی بِن بُغاء حکم اوکړو چې هلته لاړ شه زمکه وغیره اوګوره او که نوره زمکه اخستل غواړي نو واخله. زه هلته لاړم او زمکه مې اولیدله نو په دې پوهه شوم چې تر څو پورې مو د یتیم زمکه نه وي اخستي تر هغې پورې تعمیراتي کار په صحیح انداز کښې نه شي کیدے. نو زه د هغه ځائے د قاضی احمد بِن هُدیل رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ خوا ته لاړم او عرض مې اوکړو: تاسو د یتیم ماشوم زمکه په مونږ راخرڅه کړئ. قاضی صاحب انکار اوکړو او اوئې فرمائیل: هغه یتیم ماشوم ته لا د زمکې خرڅولو څه ضرورت نشته او زه دا جُرأَت نه شم کولے چې د هغه زمکه خرڅه کړم او هغه د زمکې نه محرومه کړم. کیدے شي چې زه د زمکې په بدله کښې مال واخلم او خدانخواسته په څه طریقه مال هلاك شي نو زه به د هغه حق ضائع کولو والا جوړ شم. ما ورته اووئیل: تاسو په مونږ هغه زمکه راخرڅه کړئ مونږ به ئې دوه چنده قیمت ادا کړو. قاضی صاحب اووئیل: زه په دوه چنده قیمت هم هغه زمکه نه شم خرڅولے ځکه چې مال خو کمیږي زیاتیږي. د زیات مال لالچ هُم ما زمکې خرڅولو ته نه شي مائل کولے. الغرض ما په هره طریقه د قاضی صاحب د راضي کولو کوشش اوکړو خو هغوئي رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ اُونه منله او د هغوئي په وړاندې زما یوه خبره اونه چلیده، آخر زه پریشانه شوم او عرض مې اوکړو: قاضی صاحب! داسې قدم مه اوچتوئ چې تاسو د هغې په وجه پریشانئ سره مخامخ شئ، تاسو ته معلومه ده چې دا مُعامَله د موسٰی بِن بُغاء ده. لږ خیال کوئ، داسې خلقو سره ډغره وهل ښه نه وي. قاضی صاحب اووئیل: **اللّٰه** پاك دِ تا ته

عِزَّت درکړي، ته زما په مُعامله کښې مه پريشانه کيږه، بيشکه زما پروردګار عِزَّت والا او ډير اوچت ذات والا دے. د قاضـی صاحب دا خبرې مې چې واوريدلې نو زه بيرته راغلم او د **الله** پاك نه د حيا په وجه بيا د قاضـی صاحب خوا ته لاړ نه شوم. چې کله زه د موسٰی بِن بُغاء خوا ته لاړم نو هغه زما نه تپوس اوکړو: ما چې د کوم کار د پاره ليږلے وے د هغې څه اوشو؟ ما ورته د قاضـی صاحب د ملاقات ټوله واقعه بيان کړه او چې کله مې ورته د قاضـی صاحب دا جمله اووئيله چې " بيشکه زما پروردګار عِزَّت والا او ډير اوچت ذات والا دے "، نو د دې په اوريدلو موسٰی بِن بُغاء پهن ژړا شو او بيا بيا به ئې دا جمله وئيله، بيا ئې ما ته اووئيل: بس هغه زمکه پريږده او قاضـی صاحب نور مه تنګوه. لاړ شه! د هغه نيك انسان (يعنې د قاضـی صاحب)حالات معلوم کړه. که هغوئې ته د څه څيز ضرورت وي چې زه ئې پورا کړم، داسې نيك خلق په دُنيا کښې ډير کم وي. زه د موسٰی بِن بُغاء نه را رُخصَت شوم او د قاضـی احمد بِن هُذَيل کوفـی رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ خوا ته راغلم او عرض مې اوکړو چې: قاضـی صاحب! مبارك شه! اَمِير موسٰی بِن بُغاء د زمکې په مُعامَله کښې تاسو ته مُعافي اوکړه او دا په دې وجه چې ما ستاسو ټولې خبرې موسٰی بِن بُغاء ته په تفصيل سره اوکړې. اوس اَمِير موسٰی بِن بُغاء دا حکم کړے دے چې که تاسو ته د څه څيز ضرورت وي نو مونږ ته اووائې، مونږه به ئې پورا کړو. قاضـی صاحب هغه ته دُعاګانې اوکړې او اوئې فرمائيل: دا ټوله د هغې بدله ده چې ما د يتيم د مال حفاظت اوکړو، زه د هغې په بدله کښې دُنياوي مال و دولت نه غواړم.

(عيونُ الحکايات مترجم، ج1، ص396)

د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# د اَمیرِ اهلِ سُنَّت احتیاط

په دې دور کښې د اسلامي دُنیا عظیم مُبَلِّغ او علمي و روحاني پیشوا، اَمیرِ اهلسنّت، حضرتِ علاّمه مَولانا محمد الیاس عطّار قادِری رَضَوِي دامت برکاتہم العالیہ د یتیمانو په مال کښې د احتیاط په باره کښې خپله یوه واقعه بیانوي، فرمائي: په کومو ورځو کښې چې زما مشر ورور (مرحوم عبدالغني) وفات شو په هغه ورځو کښې مونږ دواړو ورونړو په شریکه د جارو [جوړولو او خرڅولو] کاروبار کولو او کیدے شي چې ما په شهید مسجد یا نُور مسجد کښې امامت هم کولو. د ورور د وفات نه پس ذمه واري زما په سر شوه او د میراث د تقسیم مسئله هم راپیښه شوه ځکه چې زما د والد مرحوم میراث نه وو تقسیم شوے او د هغوئي په پاتې شوي مال هُم کاروبار کولو خو اوس زه په سخت ازمینښت کښې راغلم چې اوس د ورور په حق کښې د پینځَو بچو او د یتیمانو د مور حق شامل شوے وو. په هغه ورځو کښې به زه د مفتي وقارُ الدین رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې حاضریدم، ما د هغوئي رحمۃ اللہ علیہ په خدمت کښې تپول صورتِ حال پیش کړو چې څه کول دي، څنګه کول دي، د دې په باره کښې مې ترینه فتوٰی حاصله کړه بیا مې د یو یو وړوکي څیز مثلاً د کاغذ، قلم او ستنې پورې حساب اوکړو او دا ډیر ګران کار وو خو چې څومره کیدے شوه ما کوشش اوکړو او د شریعت مطابق مې میراث تقسیم کړو بلکه د خپل طرف نه مې هغوئي ته زیات پیش کړو چې زما په ذمه د هغوئي څه حق پاتې نه شي خو بیا به هم ویریدم چې چرته د یتیمانو په مال کښې زما نه څه حق تلفي نه وي شوي. اوس زما پینځه واړه وریرونه بالغ شوي دي، ما د هغوئي نه او (د

هغوئي په ذريعه) د هغوئي د مور نه هُم (احتياطاً) مُعافـی حاصله کړي ده. (امیرِاہلِ سُنَّت کی کہانی اُنہی کی زبانی، غیر مطبوعہ)

## د عرش د سَوري حاصلولو طريقه

اے د غريبانو او يتيمانو درد ساتونكو اسلامي وروڼړو! راځئ چې دا عهد [يعني پخه وعده] اوكړو چې د يتيمانو د حقوقو حفاظت به كوو، د بے آسره او غريبو خلقو خوشحالولو ذريعه به جوړيږو، خپل خواو شا اوګورئ، خپلو خپلوانو، ګاونډيانو، محلے دارو وغيره كښې كه چرته يتيم ماشوم، ماشومه يا داسې كونډه وي چې د هغوئي ساعت په مشكله تيريږي نو خاص طور د دې خوږ اختر د خوشحالئ په موقع او عامو حالاتو كښې هم د هغوئي د پالنې كوشش اوكړئ. هره مياشت د هغوئي كور ته راشن ليږئ، د اختر په موقع باندې يتيمانو ماشومانو له نوي او ښائسته جامے اخلئ او څه مناسب د اختر روپۍ [عِيدي] ورته په باعِزَّته طريقه وركوئ او د غريبانو، بے آسره او دردمندو خلقو د زړونو دُعاګانې واخلئ. د الله پاك آخري نبـی مكي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: څوك چې د يو يتيم يا كونډې كفالت [يعني پالنه] اوكړي **الله** پاك به هغه ته په ورځ د قيامت د عرش سَورے عطا كړي. (معجم اوسط، ج6، ص429، حديث9292)

الله پاك دِ مونږ ټولو ته په خپله لاره كښې د خرچ كولو، غريبانو، يتيمانو سره د ښه سلوك كولو او د هغوئي د خوشحالولو توفيق راعطا كړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کیدونکي د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره توله شپه تیروئ ❀ د سُنّتو د تربیّت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❀ هره ورځ د "فِکرِ مَدِینه" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فیضانِ مدینه محلّه سوداگران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com